سرلوڅ مرادزی

۲۰۲۲ / ۱۲ / ۳۰

# تېر وختونه

ماشومتوب او د ځوانی شپې هسې لاړې
لکه څوک چې له خولې توکاندي توکاړې
بیا به رانشي هغه سپرلي د عمر
چې خزان کړ په یوه ګوزار ریتاړې
خاورې شوی یو ارمان به پوره نه شي
ورپسې که شپه او ورځې په سرو ژاړې
بڼ د عمر به ونه نیسي ګلونه
که باغوان د بڼ هرڅو وکړي کرواړې
بیا د نجونو قطار مه ګوره ګودر ته
چې وخت خاورې کړې هغه د ګودر غاړې
جبیره به هغه میني بیرته نه شي
چې د وخت په توپانو کې شوې ویجاړې
لاس ته نه راځي هغه تېر فرصتونه
چې په لویلاس شو تر پښو لاندې لتاړې
چې د وخت سره قدم په تدبیر نه ږدي
برخلیک د هغه ولس دی شاړې واړې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

روح مې هغه وخت  له تنه ځخه لاړه

کوم ساعت چې مې له ځنګه ځخه لاړې


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولــئ